Global Refuge

# آیا تاسو د امریکا د تابعیت اخیستلو په اړه فکر کوئ؟

## مهم معلومات چې باید پرې پوه شئ



### د تابعیت ګټې

- مدني ګډون – اتباع کولی شي په ټولنه کې لا بشپړ ګډون وکړي، په شمول د محکمې په هيئت منصفه (jury) کې دندې ترسره کول.
- اقتصادي ګټې – تابعیت کولی شي د نوو کاري فرصتونو دروازې پرانيزي، په شمول د فدرالي دندو، او د عاید زیاتوالي کې مرسته وکړي.
- ښوونیز فرصتونه – تابعیت کولی شي د بورسونو او مالي مرستو ترلاسه کولو ورټیا پراخه کړي.
- د کورنۍ یوځای کېدل – اتباع کولی شي د ځينو کورنۍ غړو لپاره د قانوني دایمي استوګنې (Green Card) سپانسرشیپ وکړي.
- د اخراج (Deportation) څخه ساتنه – د قانون له مخې، اتباع باید له هېواده ونه ایستل شي.
- د سفر کم محدودیتونه – اتباع  امريکا ته د داخلېدو پر مهال د سفر محدودیتونو تابع نه وي او کولی شي ځينو بهرنیو هېوادونو ته د لږو ویزو محدودیتونو سره سفر وکړي.
- رایه ورکول - اتباع په فدرالي ټاکنو کې د رايې ورکولو حق لري

### څوک د تابعیت ترلاسه کولو وړ دي؟

- هغه لويان چې ۱۸ کلن یا له ۱۸ کلونو څخه زیات عمر لري.
- قانوني دایمي اوسېدونکي (LPR) یا د "ګرين کارت" لرونکي چې د ۵ کلونو لپاره یې دا کارت درلودلی وي، یا که د LPR حیثیت د امریکایي اتباع سره د واده  کولو له لارې ترلاسه شوی وي، نو ۳ کاله.
- د امريکا په متحده ایالاتو کې یې د ۵ کلونو (یا ۳ کلونو) په اوږدو کې پرله‌پسې حضور ساتلی وي، او لږ تر لږه ۳ میاشتې یې په خپل اوسني ایالت کې یې ژوند کړی وي.
- د ۵ کلونو لږ تر لږه نیمه موده (یا د واده په صورت کې د ۳ کلونو نيمه موده) په فزيکي ډول په متحده ایالاتو کې موجود وي.
- ښه اخلاقي سيرت ولري.
- د انګلیسي ژبې او مدني معلوماتو (Civics) ازموينو اخيستلو ته چمتو وي*
- د متحده ایالاتو د وفادارۍ سوګند (Oath of Allegiance) اخیستلو ته چمتو وي.

*ځينې کسان ممکن د ازموینو له اخیستلو څخه د معافیت (*waiver*) لپاره وړ وي.

**د تابعیت ترلاسه کولو پروسې او ستاسو د وړتیا په اړه نور معلومات د ګلوبل ریفیوج د مهاجرت قانوني خدماتو ټیم سره په اړیکه کې ترلاسه کړئ.**

globalrefuge.org/legalservices